کله چې زه (اسرا او معراج) ته پورته کړی شوم، نو د خلکو په یوې ډلې تېر شوم چې په اوسپنیزو نوکانو یې د خپلو مخونو او سینو غوښې شوکارې کولې

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «کله چې زه (اسرا او معراج) ته پورته کړی شوم، نو د خلکو په یوې ډلې تېر شوم چې په اوسپنیزو نوکانو یې د خپلو مخونو او سینو غوښې شوکارې کولې نو ما وویل چې: اې جبرائیله دا څوک دي، هغه وویل: دا هغه خلک دي چې د خلکو غوښې خوري (غیبت یې کوي) او په عزتونو کې یې غږیږي».

[حسن] [ابو داود روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې: کله چې هغه د اسراء او معراج په شپه آسمان ته پورته کړی شو، نو د خلکو په یوې ډلې تېر شو چې اوسپنیز نوکان یې لرل او په هغو سره یې د خپلو مخونو او سینو غوښې تورلې او څیرې کولې، نو هغه له جبرائیل علیه السلام څخه وپوښتل چې: دې کسانو څه کړي چې داسې عذاب ورکول کېږي؟ جبرائیل علیه السلام وویل: دا هغه کسان دي چې دخلکو غیبت کوي او د هغوی په عزتونو کې ناحقه خبرې کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4229